سمسور ودان

۲۰۲۳/۱۱/۲۹

# زما «پروین»



مر بھی جاوں تو کہاں لوگ بھلا ہی دینگے
لفظ میرے،میرے ہونے کی گواہی دینگے

ژباړه:

که مړه هم شم کله به مې خلک هېره کړي
زما لفظونه به زما د شتون شاهدي وايي

زه په نړیواله کچه څو ښځینه شاعرانو ته نه اندازه کېدونکې عقیدت لرم، چې یوه پکې اردو ژبې ځوانیمرګه شاعره پروین شاکر ده. هسې خو د درېو ژبو (پښتو، فارسي او اردو) پروین نومې شاعرانې (پروین ملال، پروین اعتصامي او پروین شاکر) راباندې ګرانې دي، مګر د اردو ژبې پروین کیسه او بې مثاله ادب مې تر بل هر چا زیات جذبوي؛ ځکه خو د مینې په شدیدو جذباتو کې کله ناکله ناڅاپې را نه ووېل شي: (زما پروین!)
نن ماخوستن مې له کشرې خور سره بحث پرې کاوه، هغې ویل چې زه به په خپلې لومړۍ لور پروین نوم ږدم. ما ویل دا حق خو هیڅکله نه درکوم!
څه وخت وړاندې ملګري (صدیق اورکزي) لیکلي و چې: جنت کې له پروین سره خوا په خوا ژوند غواړم. ما ویل: زما رقابت به در له غاړې شي نو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

پوهېږم دا خبرې به ځینو ملګرو ته لیونتوب ښکاره شي، خو رښتیا خبره دا ده چې زه د پروین په هرې کرښې مړ شوی انسان یم! نه پوهېږم څه ډول مینه ورته ووایم، خو زه د پروین له اواز اورېدو، انځور لیدو او شعر لوستو وروسته زه نه پاتې کېږم، یو بل څوک را نه جوړ شي .

نن زما د همدې محبوبې شاعرې د زیږون ورځ ده؛ ومې غوښتل چې د ځو بېلابېلو لیکنو نچوړ، تاثر، تبصرې او یادابښتونه درسره شریک کړم. پیل به یې د پروین له پیدایښته وکړو.

زوکړه او زده کړې :

پروین شاکر د ۲۰مې پېړی په ۵۲م کال کې د نومبر په ۲۴مه کراچۍ ښار کې پیدا شوه؛ خو اصل وطن یې د هندوستان د بهار ایالت د دربهنګه سیمې لهریا سرای سیمه وه .

نومړې د سید شاکر حسن لور وه، چې هغه خپله هم ادیب و او له یوې لوستې کورنۍ سره یې تړاو درلود چې څو نور مشهور شاعران هم پکې و، په هغوی کې د بهار حسین آبادي نوم د یادولو وړ دی .

د پروین نیکه حسن عسکري ښه ادبي ذوق درلود، په کم عمرې کې یې پروین ته د سترو ادیبانو اثار ولوستل او هغه یې له پخو شعرونو سره اشنا کړه. همدا لامل و چې د ژورې مطالعې عادي شوه او په ښوونځي کې یوه تکړه زده کوونکې ترې جوړه شوه .

نومړې لومړۍ زده کړې د خپلې سیمې په رضیه او سر سید ښوونځیو کې وکړې او لا به د پوهنتون محصله وه چې د اردو ادب په لویو لویو ناستو کې یې ګډون پیل کړ او د ریډیو پاکستان علمي پروګرامونو ته هم ورغله .

پروین له کالج وروسته په انګریزي ادبیاتو او ژب پوهنه کې لوړې زده کړې وکړې، تر دې چې له جامعه کراچۍ څخه یې د ماسټرۍ سند واخیسته.

نومړې د احمد ندیم قاسمي تر سرپرستۍ لاندې د خپل پېغلتوب ډېره برخه شاعرۍ په (فنون) رسالې کې خپره کړه .

پروین په لومړیو کې ښوونکې وه او وروسته یې دولتي وظیفې هم وکړې.

د ژوند حالات:

پروین په یو معتدل اقتصاد لرونکې کورنۍ کې پیدا شوې وه، خو هغې بیا هم ۹ کاله مسلسل تدریس وکړ او هیڅکله د نورو لاس ته کېناستلې پاتې نشوه. په ۱۹۸۶م کال کې یې د ګمرکونو اړوند دولتي وظیفه پیل کړه او وروسته یې بیا په اسلام اباد کې د دویم سکرتریت دنده هم واخیسته .

په ۱۹۹۱م کې یې د امریکا له هارورډ پوهنتون څخه په عامه اداري ماسټري وکړه او په اسلام اباد کې د تل لپاره مېشته شوه.

پروین په ۱۹۷۶م کال د خپلې خاله له زوی (نصیر علي) سره، چې پوځ کې ډاکټر و؛ واده وکړ .

په واده کې د پروین رضا شامله وه؛ خو دا واده د ځینو کورنیو ستونزو له امله ډېر و نه غځېده او په ۱۹۸۷م کال کې په طلاق تمام شو.

طلاق د پروین ژوند شدید متاثره کړ او د هغې شاعرۍ ته یې د اوږدې تراژیدۍ یوه نوې دروازه پرانیسته .

د پروین د شاعرۍ په اړه تاثرات:

پروین شاکر په ۱۵ کلنۍ کې شعر لیکل پیل کړل، چې د ژوند تر پایه یې ټوله شاعري د خپلو جذبو او احساساتو اظهار و.

دغه شاعري چې وروسته د درد کائینات ترې جوړ شول، انګلیسي، جاپاني، عربي، سنسکریت، بلوچي، سندهي او پښتو ژبو ته هم وژباړل شوه.

پروین د جدید دور په مخکښو شاعرانو کې د ځانګړي مقام څښتنه وه. د مشهور ادیب (ګوپي چند) په قول: د نوي رنګ شاعرۍ پانه د پروین شاکر له لاسلیکه پرته نیمګړې ده.

د پروین استاذ او مربي (احمد ندیم قاسمي) به ویل چې: د پروین شاعري د غالب د بیت (پهونکا ہے کس نے گوش محبت میں اے خدا ــ افسونِ انتظار تمنا کہیں جسے) ښه عکاسي ده.

ده به ویل: د هیلې کولو؛ یعنې منتظر اوسېدو همدې طلسم له هومره تر غالبه تولې لوړې، رېښتوني او کره شاعرۍ ته په انساني زړه کې درزېدل ور وښودل او پروین شاکر په همدې طلسماتي انداز د اردو شاعرۍ د حقیقي جذباتو په رنګینو بارانونو ومینځله!

پروین په شعر کې د ښځو جذباتي او نفسیاتي مسایلو ته له یو نوي اړخه وکتل. د هغې لهجه نهایت زیاته بې باکه، جراتمنده او د جبر و تشدد خلاف وه .

دې په خپلو احساساتو د شرم او حیا پرده نه خېروله او شعر یې بیخي ځانګړی و، چې نه ترې د یوې رومانوي معشوقې د خیالاتو بوی راځي او نه هم له اه و فغانه ډکه روایتي عشقیه شاعري ده. د نومړې شعر د نارینه ؤ په اړه د ښځو د احساساتو بیان دی، چې د وصل او هجر کشمکش بیانوي، خو نه پکې هجر مکمل دی او نه وصل .

پروین په خپل دور کې د کشور ناهید، پروین فنا سید او فهمیده ریاض شعرونه خوښول .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړۍ شعري ټولګه (خوشبو) یې د یوې پېغلې نجلۍ د شوخو و شنګو جذباتو ترجماني ده، خو وروستۍ شاعري یې د بیا بودۍ ټال په څېر له بیلابیلو رنګونو ډکه ده؛ ځکه د خوشبو ټولګې نشرولو پر مهال پروین ۲۴ کلنه ښکلې پېغله وه او د طلاق په څېر تریخ غروپ یې له ستوني ښکته شوی نه و.

د ژوند سختۍ، د مور احساسات، له خاونده ناخوښي، بیلتون او د یوې کاریګرې میرمنې ستونزې د پروین شاکر په وروستۍ شاعرۍ کې ځانګړې موضوعات وو .

مشهوره شاعره او د پروین د ماشومتوب ملګرې (شاهده حسن) وايي: پروین فطرتاً علم ته مایله نجلۍ وه، چې په خپلې ټولې شاعرۍ کې یې له پوره شدت او جدیت سره ربښتیا ولیکل او له پېغلتوبه تر ښځه توبه پورې یې د یوې ښځینه اصلي جذبات نړۍ ته ورسول .

د شخصیت په اړه حیرانونکي خبرې:

پروین د یو نرم او سخي زړه څښتنه، ډېره هڅانده او د ناکراره طبعیت څښتنه وه .

یوه حیرانونکې چې ښايي ډېر لوستونکي ترې خبر نه وي، دا ده چې کله به پروین په کوم محفل کې کېناسته یا به کور ته ننوتله، نو څپلۍ/ سینډلې به یې وویستې او لوڅې پښې به ګرځېده .

ان تر دې چې ډېر کله به یې موټر هم لوڅې پښې چلاوه .

د پروین لومړۍ تخلص مینا وه او لومړۍ شعر یې په جنګ اخبار کې نشر شوی و.

د پروین شاعرۍ د منفردې لهجې او فکر له مله ځانګړې وه او هغه یې په کم وخت کې دومره مشهوره کړه، چې یو وخت یې د ماسټرۍ په ازموینه کې د خپل شعر اړوند سوال ولیده.

نومورې له خپلې خور (نسرین) کشره او ښوونځي کې دوه کاله شاته وه؛ خو وروسته یې دوه ځله د سویي امتحان ورکړ او د هغې ټولګیواله شوه.

کله چې په کم عمر کې پروین بیخي ډېره مشهوره شوه، نو ځینو کسانو هڅه وکړه د هغې او ښوونکي (قاسمي صیب) ترمنځ درزونه واچوي؛ ځکه خو به یې ویل چې د منصور په جامه کې خدای غږیږي .

هماغه و چې پروین د نیږدې خپلوانو په مشوره له قاسمي صیب سره لیدل کم کړل.

قاسمي صیب څه وخت وروسته د (زما لورې پروین) په نوم یوه مضمون کې پروین څخه په دې الفاظو کې ګیله وکړه: (خفه یم چې په وروستیو ورځو کې د پروین د غم سبب شوم. زما لورې! د سیمینار لپاره مې هر څوک خبرولی شي، خو ستا خبره جلا ده. ته ما ته د منصور حلاج په څېر یې، هغه که هر څومره پردیو وویشته فکر یې خراب نشو، مګر خپلوانو چې یوه تیږه هم ور ګزار کړه له غمه جنون ته رسېده.)

د پروین شاکر خودکلامي

د پروین شاکر زوی (مراد) وايي چې مورجاني به ډېر کله د قدم وهلو او تنها ناستې پرمهال خپله شاعري ځان سره ویله.

هغې د قدم وهلو عادت او د سیاحت ځانګړی شوق درلود .

له ډوډۍ خوړلو وروسته به ځان سره غږېدله، چې ښايي خپل شعرونه یې ویل؛ مګر ما ته د هغې خودکلامي ښکارېده.

له وفات وروسته یې د ژوندلیک دوه نیمګړې کتابچې هم راپاتې شوې او ځینې ناچاپ شعرونه هم وو، چې بیا مو نشر کړل. هغو شعرونو ته له وړاندې لا مورجاني د (کف آئینه) نوم ټاکلی و.

له ثروت حسین سره مینه

د پروین شاکر او ثروت حسین مینه یوه اوږده موده په ادبي حلقو کې د بحث ګرمه موضوع وه. ځینې خلک فکر کوی چې پروین له ثروت سره بې وفايي وکړه، چې دې ناکردي د ثروت په شخصیت منفي اغېز وکړ او هغه په ۱۹۹۳م کال کې د ریل ګاډي مخې ته درېدلو سره د ځان وژنې هڅه وکړه، خو کامیاب نشو، مګر پوره درې کاله وروسته چې د پروین د مړینې هم دوه کاله پوره شوي و؛ ثروت بیا هڅه وکړه او دا ځل کامیاب شو چې ځان ووژني .

تر اوسه د پروین او ثروت د مینې په اړه ډېر معلومات نه پیدا کیږي او ځینې خو ان دا هم وايي چې ثروت حسین د یو ملګري په فراق کې ځان وژنه وکړه.

له ایرانۍ فروغ فرخزاد سره ورته والی:

د پروین شاکر له مړینې وروسته په ادبي مجلسونو کې یو نوی بحث پیدا شو او دا بحث له فارسي ژبې شاعرې (فروغ فرخزاد) سره د پروین په ورته والي و.

پروین چې په ژوندانه یې فروغ ته یو شعر نذر کړی و، له فروغ سره ګڼ تصادفي مماثلتونه لري.

لومړی دا چې دواړو شاعرانو په نیږدې خپلوانو کې واده کړی و.

دواړه له یوې مودې وروسته طلاق شوې، چې لاملونه یې هم کورنۍ ستونزې او تاوتریخوالی و.

دواړو له طلاق وروسته بل واده ونکړ او ټول ژوند یې ادبیاتو ته ورکړ .

دواړو یو یو زوی درلود، چې د ځوانیمرګې له امله یې د هغوی ځواني و نه لیدله.

دواړه پنځه پنځه شعري ټولګې لري، چې د پروین ټولګې د (خوشبو، صد برګ، خود کلامی، انکار او کف آئینه) په نوم او د فروغ بیا (اسیر، دیوار، عصیان، تولد دیګر او ایمان بیاوریم به آغاز فصل سرد) نومیږي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

دواړو له واده وړاندې خپلې لومړۍ ټولګې چاپ کړې.
دواړو په شعر کې ښځينه احساسات په جرات او زړورتيا سره بيان کړل.
د دواړو افکار باغي او له ټولنې ډېر بدل وو.
د دواړو لومړۍ شعري ټولګې له ښځينه ګرمو عواطفو، جذبو او احساساتو ډکې دي او وروستۍ يې د ښځينه ټولنيزو ستونزو په اړه دي.
دواړو په ځان اتکا کوله، وظيفې يې وکړې او مشاعرو ته تللې؛ خو د کورنيو يې دا چارې نه خوښېدې.
دواړه نسبتاً همعصره شاعرانې وې او د ښکلو الفاظو ترڅنګ يې د ښايسته څېرو له امله هم ډېر مينه وال لرل.
دواړو د يو ناکام عشق مينه وڅکله.
او بالاخره دواړه په ترافيکي حادثو کې مړې شوې، چې بيا د خپلو هېوادونو په پلازمينو کې خاورو ته وسپارل شوې .
د ترافيکي پېښو پرمهال دواړو خپله موټرواني کوله .
دوى دواړه په داسې وخت کې خاورو ته وسپارل شوې چې هوا يخه وه. د فروغ په قبر واوره او د پروين په قبر باران ورېده.
لاندې د فروغ فرخزاد لپاره د پروين شاکر له لوري ليکل شوى شعر لوستلى شئ:
»مصاحب شاہ سے کہو کہ
فقیہِ اعظم بھی آج تصدیق کر گئے ہیں
کہ فصل پھر سے گناہ گاروں کی پک گئی ہے
حضور کی جنبش نظر کے
تمام جلاد منتظر ہیں
کہ کون سی حد جناب جاری کریں
تو تعمیل بندگی ہو
کہاں پہ سر اور کہاں پہ دستار اتارنا احسن العمل ہے
کہاں پہ ہاتھوں کہاں زبانوں کو قطع کیجئے
کہاں پہ دروازہ رزق کا بند کرنا ہوگا
کہاں پہ آسائشوں کی بھوکوں کو مار دیجے
کہاں بٹے گی لعان کی چھوٹ
اور کہاں پر
رجم کے احکام جاری ہوں گے
کہاں پہ نو سالہ بچیاں چہل سالہ مردوں کے ساتھ
سنگین میں پرونے کا حکم ہوگا
کہاں پہ اقبالی ملزموں کو
کسی طرح شک کا فائدہ ہو
کہاں پہ معصوم دار پر کھینچنا پڑے گا
حضور احکام جو بھی جاری کریں گے
فقط التجا یہ ہوگی
کہ اپنے ارشاد عالیہ کو
زبانی رکھیں
وگرنہ
قانونی الجھنیں ہیں«!
تخليقات:
پروين شاکر تر ډېره په دوو مشهور ژانرونو (غزل او ازاد نظم) کې د دوو مهمو مضامينو (مينې او ښځې) اړوند شاعري وکړه .
خپله لومړۍ شعري ټولګه يې په ۱۹۷۶م کال کې د خوشبو په نوم نشر کړه چې له امله يې هغه د (خوشبو شاعرې) په نوم مشهوره شوه او آدم جي جايزه يې هم پرې واخيسته.
دوهم اثر يې په ۱۹۸۰م کال کې د صد برګ، دريم په ۱۹۹۰م کې د خودکلامی، څلورم هم په ۱۹۹۰م کې د انکار او پنځم کتاب ۱۹۹۴م کې د کف آئينه په نوم نشر شو.
په ۱۹۹۴م کال کې د پروين شاکر تر مړينې وروسته د هغې ټول کليات د (ماه تمام) په نوم چاپ او نشر شو.
د پروين دوو ټولګو د علامه اقبال او فيض احمد فيض ادبي جايزې هم ګټلې دي.
په شعرونو کې نوې ترکيبونه:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا چې پروین شاکر په ادبیاتو او ژب پوهنې کې خورا ازاد لاس درلود، نو اردو شاعرۍ ته یې ځینې نوي ترکیبونه هم ورکړل. په دغو ترکیبونو کې سوچه اردو، فارسي اردو او سوچه هندي ترکیبونه هم شته، چې د هغې په زیاتې پوهې، ژورې مطالعې او لوړ تخیل دلالت کوي .

»شیشہ رُو، بنفشی ہاتھ، دریچۂ گل، موجۂ گل، سایۂ گل، پایۂ گل، چشمِ گل، قامتِ شعر، سروبدن، قریۂ جاں، خانہ بجاں، شجرِ جاں، حجلۂ جاں، نقدِ جاں، جاں گزارنا، رخشِ جاں، پیشِ جاں، عرصۂ جاں، آتشِ جاں، کلبۂ جاں، طائرِ جاں، شیشۂ جاں، خیمۂ جاں، تہہ خانۂ جاں، عکسِ خوشبو، حرفِ سادہ، موج ہوا، ذہین نگاہ، دستِ صبا، پہاڑ دن، اُجاڑ رات، زبانِ رنگ، لمسِ مرگ، گلابی دھوپ، سانپ راتیں، اُلوہی لمحے، قبائے خاک، دل زدہ، پھول بدن، شہرِ ناسپاس، اُجلی خواہش، سحاب لہجہ، خزاں زاد، نایافت شہریت، خواب آسا سکوت، بے چہرہ وجود، قرطاسِ بدن، ہوابردہوجانا، شبنم بدست، شب گزیدہ، خوش بدن، درِکم باز، زَردائی ہوئی رُت، شہرِ سخن فروشگاں، مادرزاد منافق، شہرِ صدآئینہ، شبنم رنگ پیشانی، گلابی لذت، لمسِ گریزاں، نرم فامی، لالہ فامی، سبک نام، چھاؤں اُگانا، موسمِ بے اختیاری، چہرہ اُگانا، دست بستہ شہر، بے فیض بدن، بھوکی آنکھ، جلتا فقرہ، شب زاد، موجۂ خواب، سہم ناکی، عنکبوتی ہنر، کوفۂ عشق، سورج خور، شاخ گریہ، خوابِ یکتائی، لمحۂ جمال، حرفِ اندمال، ناخنِ وصال، گونگے سناٹے، خوش چشم، دلِ شب زاد، تہی زاد، جمشید گُلابی، خنجرِ گل فام، شہرِ رسن بستہ، کلاہِ زخم زدہ، سفاک لمحے، نشاطِ حسن بازی، کنارۂ روح، شہادت گہہِ وفا، حرفِ سبز، صاعقہ مزاج، بدن گیرغراہٹ، ستارہ ساز ہاتھ، زمزمہ آثار، ہوانژاد، کفِ گلاب، آئینہ نژاد، فصیلِ شوق، آئینے کی آنکھ، دیدۂ بے خواب، اصل شناس، افراطِ خواہش، تفریطِ وقت، درہمِ خودداری، دینارِ عزتِ نفس، منسوخ شدہ قدریں، آدابِ مسافرداری، صلیبِ خوں آشام، صیغۂ عقد، ہوامزاج، ستارہ سوار، قیمتِ شگفت، نیم بیدار منظر، بیضوی موڑ، شاخ بدن، خوش لمس ہوا، زندگی کمانا، تیرِ شناسائی، سنسان زندگی، ہجومِ ہم خوابگاں، بنجر ذہنوں میں پھول اگانا، ناخنِ ملال، تہہ خانۂ غم، دیوارِ خواہش، بدن کے موسم، ذہن افگن مسئلہ، فصیلِ جسم، آوارگانِ شب، طائرِ امید، آسماں جناب، سوچ سے خوشبوبنانا، یرقانی سوچ، گرگ زاد غم خواری، دل کی آبروریزی، ہمہ تن چشم، بساطِ زیست، زمیں زاد، نشتر بدست شہر، فرشِ فلک، عہدِ مہرباں، دہلیزِ سماعت، فضائے حرف و صوت، توازن گر طبیعت، خانۂ آئینہ ساماں، گلابی خوشبو، حدِّبصارت، جنتِ خاشاک نہاد، عظمتِ یک لحظہ، وقت کی ہم گامی، نصابِ تملُّق، کوے جفا، عذابِ دربدی، سفیدپوشيِ دیوارودر، خرقۂ غم، پوشش رسوائی، چادرِ دل داری، حصارِ دعا، جگنوسی زمیں، کفِ آسماں، قبائے شجر، دیارِ غزال چشماں، شب پیمائی، موسمِ بے چہرگی، آئینہ بردوش، عکسِ بے منظر، پرندِ خوش خبر، مداراتِ الم، سبزۂ بیگانہ، ریشمیں فرصت، شعلہ رُو، فرش خوابی، ہوائے شہرِ ستم، قبائے سخن، مجاورینِ ادب، طائرِ خوں بستہ، بوسیدہ بیوی، جہنمی درجۂ حرارت، محبت کی کلینکل موت، نوخیز خوشبو، منصبِ دلبری، نرم روشنی، وعدہ گہہِ ہستی، صبح چہر، آوازکاچہرہ چھونا، جنوں خیز خوشبو، موسمِ عنبرفشاں، دیوتا، مدُھر، سنگیت، سمے، سنسار، پریم، روپ، من موہن، سَکھی، سُر، اَنگ، رُت، سنگم، دیس، بَن، جنم، سندیس، ساگر، آدرش، گمبھیر، راج کماری، بھور، سنگ، ساجن، گوری، مُکھ، نین، مُسکانا، سہاگن، سندرتا، جَگ، پرویًا، پجاری، سادھو، منتر، بن باس لینا، ریکھا، وِیر، مہکار، سیندور، کجرا، ہِردے، چِتا، داسی، درشن، امرِت، شریر، کومل سر، پوتر، چر ن، بھوَن، بھیتر، سنجوگ، پتی، آکاش، چندرما، آتما، چھایا، راجا، بدھائی، جل، بِنتی، سینتنا، سانجھ سویرے، سمبندھ، سمان، راج رتھ، آرتی اتارنا، آڑھت، آشا، پُرش، بھاگ، ایمان، بلیدان، سمپورن، شبد، ادھیکار، دان کرنا، دیوالی، مندر، گنگا، کرشن، گھنشیام او...» هغه ترکیبي لغتونه او الفاظ دي، چې د پروین شاعري یې لا ښکلې کړې ده.

د شعر بېلګه :

د پروین په شعرونو کې انتخاب کول سخت وي؛ مګر لاندې به یې یو مشهور غزل چې د خپل مئین فراق کې یې لیکلی؛ را واخلو:

کو بہ کو پھیل گئی بات شناسائی کی
اس نے خوشبو کی طرح میری پذیرائی کی
کیسے کہہ دوں کہ مجھے چھوڑ دیا ہے اس نے
بات تو سچ ہے مگر بات ہے رسوائی کی
وہ کہیں بھی گیا لوٹا تو میرے پاس آیا
بس یہی بات ہے اچھی میرے ہر جائی کی
تیرا پہلو ترے دل کی طرح آباد رہے
تجھ پر گزرے نہ قیامت شب تنہائی کی
اس نے جلتی ہوئی پیشانی پہ جب ہاتھ رکھا
روح تک آگئی تاثیر مسیحائی کی
اب بھی برسات کی راتوں میں بدن ٹوٹتا ہے
جاگ اٹھتی ہیں عجب خواہشیں انگڑائی کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پروين څيني بيتونه له ازادې ژباړې سره :
کیسی کہہ دو کہ مجھے چوڑ دیا ہے اس نے
بات تو سچ ہے مگر بات ہے رسوایئ کی
ژباړه:
څنګه يې ووايم چې هغه پرېښودم
خبره ريښتيا ده، خو د رسوايي ده
۲
تلاش کر میری کمی کو اپنی دل مین
درد ھو تو سمجھ لینا، رشتہ اب بھی باقی ھی
ژباړه:
زما کمی په خپل زړه کي وګوره
که درد و یوی شه لا رشته باقي ده
۳
میں سچ کہوں گی مگر پھر بھی ہار جاؤں گی
وہ جھوٹ بولے گا اور لاجواب کر دے گا
ژباړه:
زه به ربښتيا وايم خو بيا به يې هم وبايلم
هغه به دروغ وايي او ما به بې ځوابه کړي
۴
اس شرط پہ کھیلوں گی پیا پیار کی بازی
جیتوں تو تجھے پاؤں ہاروں تو پیا تیری
ژباړه:
په دې شرط به د مينه لوبه کوم محبوبه
که يې ګټم ته زما، که يې بايلم نو زه ستا
۵
وہ تو خوشبو ہے ہواؤں میں بکھر جائے گا
مسئلہ پھول کا ہے پھول کدھر جائے گا
ژباړه:
هغه خوشبو ده په هوا کي به خپره شي
مسئله د ګل ده، ګل به چيرته لاړ شي؟
۶
اتنے گھنے بادل کے پیچھے
کتنا تنہا ہوگا چاند
ژباړه:
د دومره ګنو وريځو شاته
څومره تنها به وي سپوږمی
۷
کچھ تو ہوا بھی سرد تھی کچھ تھا ترا خیال بھی
دل کو خوشی کے ساتھ ساتھ ہوتا رہا ملال بھی
ژباړه:
يوه څه هوا يخه وه، يو څه ستا خيال هم و
زړه به د خوښي ترڅنګ غمجن هم شو
۸
چلنے کا حوصلہ نہیں رکنا محال کر دیا
عشق کے اس سفر نے تو مجھ کو نڈھال کر دیا
ژباړه:
د تلو حوصله نشته، دريدل يې ناممکن کړل
د مينې دې سفر خو زه مرژواندې کړمه
۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کچھ تو ترے موسم ہی مجھے راس کم آئے
اور کچھ مری مٹی میں بغاوت بھی بہت تھی
ژباړه:
یو څه خو ستا موسم زما په نصیب نشو
او یو څه زما خاوره کې بغاوت زیات و
۱۰
اب تو اس راہ سے وہ شخص گزرتا بھی نہیں
اب کس امید پہ دروازے سے جھانکے کوئی
ژباړه:
اوس خو په دې لاره هغه کس هم نه تیریږي
اوس نو په کوم امید له دروازې بهر وګوري څوک
مړینه :
پروین شاکر لا ۴۲ کلنه وه چې د ۱۹۹۴م کال د دسمبر په ۲۶مې نېټې اسلام اباد کې د یوې ترافیکي حادثې ښکار شوه. تر روغتونه پورې د پروین په رګونو کې ساه چلېدله، خو هلته یې نور ژوند سره مقابله ونشوه کړای.
د پېښې عیني شاهدان وایي چې پروین خپل دفتر ته په موټر کې روانه وه، د سرک له غاړې بل سرک ته تاوېده چې مخامخ تېز سرعته بس راغی او د هغې موټر سره وجنګېده .
د نوموړې جنازې ته د وخت ټول مشهور شاعران راغلل او وروسته په ډېرو درنو مراسمو کې د اسلام مرکزي هدیرې کې خښه شوه.
له پروین څخه یوازې یو زوی (مرادعلي) پاتې دی .
د هغې د قبر په شناخته لاندې بیتونه کښل شوي دي:
یا رب مرے سکوت کو نغمہ سرائی دے
زخم ہنر کو حوصلہ لب کشائی دے
شہر سخن سے روح کو وہ آشنائی دے
آنکھیں بھی بند رکھوں تو رستا سجھائی دے
په اسلام اباد کې جنازه د خښولو پرېکړه:
پروین شاکر د ژوند په وروستیو کې اسلام اباد کې اوسېده، ځکه هلته یې دولتي وظیفه لرله او د هماغه ځای په سترو ادبي مجلسونو کې به کوربنه وه .
له مړینې وروسته یې ځینو خلکو ویل چې باید کراچۍ ته یوړل شي، خو ملګرو او خپلوانو یې پرېکړه وکړه چې اسلام اباد کې خښه شي؛ ځکه هغې له اسلام اباد سره ځانګړې مینه لرله او ډېر ملګري یې هم هلته و.
د پروین په جنازه کې د هرې طبقې خلک شامل و. د وخت سترو شاعرانو، شتمنو، سیاستوالو، د دفترونو همکارانو، خپلوانو او شاګردانو یې د جنازې لمونځ پرې وکړ.
په همدې ورځ باندې د هغې پخوانی خاوند هم راغی او جنازه یې وکړه.
له یوې سترې جنازې وروسته پروین د اسلام اباد په ایچ ایټ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه، چې دا دی له کلونو تېریدو وروسته هم د شعر مینه وال دعا او سلام ته ورځي!
د پروین ارواح ته نذر:
د پروین شاکر په ناڅاپي مړینې ټولو ادبي حلقو کې د غم یو نه زغمېدونکې څپې حرکت وکړ. سترو سترو ادیبانو د هغې دردېدلي ارواه ته تسلیت وړاندې کړ او هغه یې د اردو ادب لپاره ستره ضایع وبلله. مشهور شاعر سردار جعفري په یوې ساندې کې د پروین په اړه ولیکل :
وہ ودیا پتی کی شاعری کی معصوم، حسین و شوخ رادھا
وہ فیض و فراق سے زیادہ تقدیس بدن کی رازداں تھی
گلزار بدن کی تہنیت میں گلنار لبوں سے گلفشاں تھی
لفظوں کی ہتھیلیاں حنائی تشبیہوں کی انگلیاں گلابی
سرسبز خیال کا گلستاں، مبہم سے کچھ آنسوؤں کےچشمے
اور درد کے بادلوں سے چھن کر،نغموں کی پھوار پڑ رہی تھی
د پروین د زوی یادونه:
سید مرادعلي چې د پروین شاکر یوازینی زوی دی؛ د هغې د مړینې پر مهال ۱۵ کلن هلک و. نوموړی چې د سترو شاعرانو تر شفقت او مینې لاندې را ستر شو؛ د خپلې مور په اړه وایي: « مور مې هر وخت یادیږي؛ خو کله چې کومه خوښي یا د اخترونو ورځې وي، نو کمی یې زیات محسوسوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه د هغي یوازینۍ خوښي وم، هغه به که هر څومره هم مصروفه وه، دري وخته تودې یې کور کې خوړله. د دسترخوان په سر به یې د ټولي ورځي پوښتني را نه وکړې: په ښوونځي کې دې ورځ څنګه تېره شوه؟ درسونه ښه روان دي؟ له ملګرو سره دې وخت ښه تیریږي؟ او...
که څه هم زه کوچنی وم خو یو نیم وخت به یې سیاسي خبرې هم راسره کولي، چې ډیر پرې نه پوهېدم .
زه د خوراک په معامله کې ډیر نخره باز وم؛ خو مور به زما د خوښي خوراکونه تیارول، د هغي د لاس (مټرپلاو او ماهي پخول) مې ډیر خوښېدل«.
د خپلې مور د مړيني په اړه مراد وویل چې: »باران و، مور مې د عادت له مخې دفتر ته روانه وه، تقریباً نهه نیمې بجې وې، چې زنګ راغی او راته وویل شول: مور دې حادثه کړې، روغتون ته راشه!
ما د خپلې مور نیږدې ملګرې (پروین قادر آغا) ته زنګ وواهه او هغه هم روغتون ته راغی .
هغه ورځ د زیات باران له امله ترافیکي اشارو کار نه کاوه، چې له امله یې بس موټر زما د مور له موټر سره وجنګېده .
روغتون ته تر رسېدو وروسته راته وویل شول، چې: مور دې روغتونه پورې لا ژوندۍ وه، خو بیا مړه شوه«.
مراد زیاتوي چې: »مور مې یو مفکره ښه وه، تل به یې راته ویل چې مراده! کمپیوټر زده کړه، راتلونکې نړۍ به په همدې لوري ځي! د هغې دا خبره رښتیا شوه. ما هم کمپیوټر ساینس ولوست او اوس د یو سافتویر انجنیر په توګه له TESLA شرکت سره کار کوم. که هغه ژوندۍ وای، نو حتماً به زما په کامیابي خوشحالېده.
زما مور ډیره هڅانده ښځه وه؛ یو ځل مې ترې وپوښتل، چې: موري ته ولي وظیفه کوې؟ ځواب یې راکړ: زه دولتي وظیفې ته اړتیا نه لرم؛ له کتابونو لاسته راتلونکې پیسې مې بس دي؛ خو ځکه ډیر کار کوم چې ته زیات تعلیم وکړې او یو ښه انسان شې، نو خواري وکړه چې یو څه در نه جوړ شي«.
مور جانه به د دفتر په کارونو او ادبي مجلسونو کې ډېره بوخته وه او چې له دې مشغولاو به را اوزګاره شوه؛ نو پاتې وخت یې ما ته راکاوه، چې د هماغه وخت ځیني یادونه مې د ژوند تولہ خزانه ده.
کله چې مور د لوړو زده کړو لپاره امریکا ته لاړه، زه هم ورسره وم، زما عمر ډیر کم و او د کارټون لیدلو هیله راسره پیدا شوه، مور ته مې وویل، خو هغه ډیره مصروفه وه .
بیا څو ورځې وروسته یې د رخصتي په ورځ راته وویل چې راځه نن ډزني لینډ ته لاړ شو او کارټون وګورو .
همدې خبرې یې زه بې حده زیات خوشحاله کړم، ځکه ما فکر نه کاوه چې هغې ته به مې فرمایش یاد وي.
مور مې د زړه کړو په برخه کې ډیره جدي وه، یو ځل چې زما نومرې کمې راغلې، نو د ټولو ملګرو په مخکې راته غوسه شوه
مرادعلي د پروین وفادارو ملګرو را لوی کړی
مرادعلي وايي چې د مور له وفات وروسته سخت تنها شوم؛ ځکه کومه خور یا ورور مې نه درلود او پلار خو لا له وړاندې پرېښی وم .
بیا زما انې او خاله اسلام اباد ته راغلل؛ خو زما په پالنه کې د مور د وفادارو دوستانو لوی لاس دی.
پروین قادر آغا چې د پروین شاکر نیږدې ملګرې وه، تر وروستي حده د مراد په روزنه کې هڅې وکړې.
مراد وايي، چې: پروین قادر آغا به د مور په څېر مینه راکوله، چې له امله یې د هغې او نورو دوستانو کورنۍ زما کورنۍ شوه او اولادونه یې زما خپلوان.
وروسته د مور ملګرو د (پروین شاکر) په نوم خیریه ټولنه جوړه کړه چې لومړیو کې یې زما د روزنې، زده کړو او اوسېدو خرڅه اوچتوله او وروسته چې زه را لوی شوم، نو د راجمع کېدونکو پیسو په مرسته یې بار بار د مورجانې شاعري چاپوله.
زما لوني پوښتي چې نیا جانه څنګه ښکارېده؟
مراد په ژوند کې د خپلې مور نوم شاملولو په خاطر مشرې لور باندې شانزې پروین نوم ایښی دی .
هغه وايي چې: دواړه لوڼي (شانزې پروین او آریه) ډیر کله په کور کې د مور جانې له انځورونو، جایزو او کتابونو لیدلو وروسته را نه وپوښتي چې: نیاجانه څنګه ښکارېده؟
نو زه بې ځوابه شم او ډیر ارمان راشي چې کاش نن مورجانه ژوندۍ وای.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ